# الماء





لیکوال: داکتر معمار حشمت الله اتمر



پیخلیک: لیندی / کال ۱۴۰۵ لیږدی



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکي پوهه:**

**سرليک:** **الماء**

**ليکوال:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**اېډېټور:**

**د پخښتی ډيزان:** ډاکټر معمار حشمت الله ,, اتمر ،،

**خپرندوی:**

**چاپشمېر:** ۳۰

**چاپ نېټه:** مياشت - لیندی / کال ۱۴۰۵

**واټس اپ:** +۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

**برېښناليک:**

atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له ليکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ
ښوونې ترې د ګټې اخيستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

پخښتیَ........................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم ............................................................. ۲
لیکي پوهه:................................................................................ ۳
لړلیک ...................................................................................... ٤
تراڼ (پیل، شروع، برید)........................................................... ٥
د یادښتونو له پاره:.................................................................... ۷
الله اکبر ................................................................................. ۸
د غزې تړانګې نخشه (نقشه) ..................................................... ۹
د غزې تړانګې انځورونه، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه .......... ۱۰
ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) ..................................................... ۱۳
د غزې تړانګې انځورونه  د جګړې لیکې نه..................................... ۳۸
نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَ فَتْحٌ قَرِيبٌ ............................................................ ٤۳
د چاپ شویو کتابونو لېست............................................................ ٤٤
د کار لاندې کتابونو لېست ........................................................... ٤۸
د امکان او وخت په صورت کې..................................................... ٤۹
د پخښتیَ څټ ........................................................................... ٥۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## ترانې (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د تولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یوه بل حقیقي داستان یا ناول چې د غمه ډکه کیسه یې د غزې په ترانګه (فلسطین) هېواد کې د ننه، پیل شوې، وروسته بیا نورو سیمو ته غزېدلې او تر اوسه محاله روانه ده.

په دې کتاب کې مې د ځینو لیکونو پرځای (عوض) کې مې انځورونه ګډ کړي دي، کوم چې د داستان مستند، پخلی کوي او هر انځور په سلونو چوپړو خبرې کوي، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره ګډ (شریکه) کړم.

زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

چې د هرې څانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړي چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

**يادونه:**

- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره ګډ (شريکه) کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت

ډاکتر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یادښتونو له پاره:

۱- ..........................................................................

۲- ..........................................................................

۳- ..........................................................................

۴- ..........................................................................

۵- ..........................................................................

۶- ........................................................................

۷- ........................................................................

۸- ........................................................................

۹- ........................................................................

۱۰- ......................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## د غزې تړانګې نخشه (نقشه)



(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## د غزې تړانګي انځورونه، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه



د غزې تړانګي انځور، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه



د غزې تړانګي انځور، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الماء

.....



د غزې ترانګې انځور، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه



د غزې ترانګې انځور، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## الماء

.....



د غزې تړانګې انځور، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه



د غزې تړانګې انځور، مخکې د اکتوبر /۷ / کال ۲۰۲۳ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان)**

هغه په ۲۰۱۱ کې د غزې په تړانګې کې دېنړۍ ته، سترګې خلاصې کړې (وغوړوې).

هغې خپل ژوند د پلار، مور، نیا او نیکه سره چې دینداره او روښانه کورنۍ وه، پیل کړ.

هغه د کوشنیوالي نه، ډېر ژر په ټولو ګرانه شوه.

وروسته د غوږ آذان ورکولو نه، ټولو هغې ته کوښښ وکړ چې یوه ښکلې او عربي نوم، داسې نوم چې لږو خلکو پر خپلو اولادونو او خاصتاً پر خپلو انجونو ایښی وي، خوښ کړي.

څو ورځې تېرې شوې.

د هغوی پر زړه پورې نوم د ماشومې له پاره، په ذهنونو کې و نه ګرځېد.

نیکه یې تر ټولو ډېر سوچونه کول، تر څو پر هغې ښکلي نوم کېږدي.

یوه ورځ چې نیکه یې ستړی له کاره راغلی و، خپلې ښځې ته و ویل:

لږ اوبه خو راوړه چې ستړی شوی یم.

ښځه یې له ځایه پاڅېده او یخچال خوا، روانه شوه.

پیاله یې د اوبو نه ډکه کړه او خپل مېړه ته یې ورکړه.

هغه ډېر ستړی شوی، و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

پياله يې واخيسته او خولې ته يې نږدې کړه.

خولې ته يې لا نه وه رسېدلې چې لمسی ته يې، پام شو.

هغه ډېره ښکلې وه.

په دې وخت کې پياله يې له لاسه وغورځېده او د کوټې پر ځمکه (فرش) ولګېده.

د پيالې اوبه ټولې تويې، مګر پياله ماته نه شوه.

بيا يې و خندل او له ځانه سره يې و ويل:

ښه به داوي چې پر هغې الماء (اوبه) نوم کېږدم.

ښځه يې را نږدې شوه او پياله يې له ځمکې پورته او ويې غوښتل چې په هماغه پياله کې، بيا اوبه راوړي.

مېړه يې و ويل:

دا پياله د الماري په پورتنۍ برخه کې، کېږده ، بيا ټولو ته و وايه چې له دې پيالې نه، کار وا نه خلي.

ته کولای شئ ما ته په بلې پيالې کې اوبه راوړې.

ښځه يې پاڅېده او پياله يې د مېړه د خبرې سره سم، د ميلمه خونې (سالون) د الماری په پورتنۍ برخې کې، کېښوده.

له هغه ځای نه يې بله پياله واخيسته.

بيا پځلنځي ته د ننه، د يخچال نه يې ډکه او خپل مېړه ته يې راوړه.

مېړه يې اوبه په خوند وڅښې او شکر يې وباسه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

بیا یې و ویل:

په ریښتیا هم اوبه د ژوند مهمه برخه او بې له اوبو ژوند امکان نه لري.

ورځ تېره شوه.

زوی یې هم د کار نه ستړی او ستو مانه راغی.

لمړی یې خپلې مور، پلار او بیا وروسته خپلې ښځې ته یې سلام ورکړ.

بیا پخلنځي ته لاړ او د یخچال نه یې یخې اوبه په پیالې کې واچوې او پر څوکۍ کښېناست.

اوبه یې وڅښې.

بیا پیاله یې هم د یخچال پر سر کېښوده.

خپله یې بېرته د مېلمه کوټې ته لاړ، چېرې چې یې پلار او مور ناست وو.

دی هم د خپل پلار ته نږدې، پر څوکۍ کښېناست.

پلار یې تېره شوې کیسه خپل زوی ته، بیان کړه.

زوی یې و خندل.

بیا د خپلې کوټې ته لاړ، چېرې یې چې ښځه او کوشنۍ لور وه.

هغه خپلې ښځې ته، و ویل:

ته پوهېږې چې زما پلار په انجلۍ څه نوم ایښی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې و ویل:

نه!

څه یې پرې نوم ایښی دی؟

بیا مېره یې خپل د پلار تیره شوې کیسه په لنډه توګه، هغې ته بیان کړه.
هغې و ویل:

سمه ده!

زه د الماء (اوبه) نوم سره موافقه یم.

سر د نن نه به، مونږ هغې ته، الماء و وایو.

دوی په خبرو اخته وو چې الماء هم خپلې سترګې و غوړوی او داسې ګمان کېده چې هغه پویه شوي وي چې نوم یې الماء ده.

هغې ته خدای تعالی ښکلی مخ، سترګې بانو او تندي(ګنې) وروځې ور په برخه کړې وې.

هغه ورځ تر بلې لوېده او پر ټولې کورنی، ګرانېده.

لمړی په چارغوکو بیا په لخچکو او وروسته په ودرېدو، شوه.

کال تېر او هغه په غږېدو هم، راغله.

د هغې منډې، خندا ډېره پر زړه پورې وه.

د کورنۍ غړو به هغه په غېږ کې نیوه او هغه به یې ښکولوله.

څه وخت تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

هغه د وړکتون شوه.

بیا مور یې هغه په وړکتون کې ګډه (شامله) کړه.

الته هم ډېرې خوږړنې یې و موندې.

الته پر ښوونکو هم ډېره ګرانه شوه.

هر چا به هغې د ښایست، خبرې کوې.

هغه الته تر شپږ کلنۍ پورې، پاتې شوه.

الماء ډېره هوښیاره او استعداد لرونکې انجلۍ وه.

درې کاله وروسته په کورنۍ کې یې الک دنیا ته راغی.

د کورنۍ خوشحالي، نوره هم ډېره شوه.

هر غړي به ویل:

دا د الماء برکت ده.

الماء هم د خپل نوي ورور سره نوره هم، خوشحاله شوه.

هغه به یې په غېږ کې نیوه او ښکولاوو.

کله نا کله به یې د هغه سره لوبې، کوې.

درې کاله نور هم، تېر شوو.

د هغوی په کور کې بله انجلۍ دې نړۍ ته، سترګې وغوړوې.

هغه هم ښکلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

کورنۍ يې ورځ تر بلې لوېده.

خوشحالی هم په کورنۍ کې ډېرېده.

درې کاله نور هم تېر شوو.

د هغوی په کور کې بل ماشوم هم وزېږېد.

هغه ماشوم الک و.

ټولو کوښښ وکړ چې پر هغه غیر عربي نوم کېږدي.

نوم ایښودنې ډېر وخت، و نیو.

چا به پرې یوه نوم او چا به پرې بل نوم ایښوده.

د هیچاه هم پر زړه پوری نوم پیدا، نه شو.

الماء به د ژویو(ځناورو) او کارټوني فیلمونه، لیدل.

هغه یوه ورځ تیلویزیون ته، ناسته وه.

د ژویو فلم یې راواړاوه.

په فلم کې یوه کوشنی الک د ژویو سره لوی شوی وو.

د الک نوم تارزن (Tarzan) و.

د الک نوم او هغه مینه د ژویو سره، هغې ته، خوند ورکړ.

د فلم د خلاصېدو نه وروسته، د خپل نیکه څنګ ته لاړه او هغه ته یې سلام ورکړ.

هغه هم د هغې سلام ته، وعلیکم و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

بیا یې هغې ته و ویل:

زما تر خوا، کښېنه!

هغه د خپل نیکه تر خوا کښېناسته.

نیکه یې و پوښتل:

الماء!

هغې و ویل:

هو!

ما اوس دستی په تیلویزیون کې یوه فلم ولید.

د فلم الک ډېر هوښیار او چالاکه و.

هغه د ژویو سره مینه درلوده.

په یوه غږ به ټول شاوخوا ژوي، هغه ته راتلل او د هغه سره به یې لوبې کوي.

د الک نوم ترازن و.

نیکه یې و ویل.

هو!

دا فلم ما هم لیدلی دی.

ډېر، پر زړه پورې داستان لری.

بیا یې خپلې لمسۍ ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

د هغه نوم تارزن ده.

بیا الماء و ویل:

زه غواړم پر هغه نوم، ترازن (تارزن) کېږدم.

نیکه یې و ویل:

ډېر ښه نوم دی.

لږ به انتظار وباسو تر څو ستا پلار هم، راشي.

مازیګر او بیا ماښام شو.

د شپې ډوډۍ هم تیاره شوه.

د الماء پلار هم ستړی ستومانه، کور ته ورسېد.

د کورنۍ ټول غړي په میلمه خونې (سالون) کې وو.

څوک د تیلویزیون په لیدو او څوک د چای پر څښلو، بوخت وو.

د الماء پلار د ننوتو سره سم، ټولو ته یې سلام ورکړ.

د الماء نیکه هم د هغه سلام ته، وعلیکم و ویل.

هغه بیا، حمام ته لاړ.

اودس یې وکړ.

بیا په بلې خونې کې، لمونځ ادا کړ.

وروسته بیرته، میلمه خونې ته، راغی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

هغه پر یوې څوکۍ کښیناست.

بیا یې الماء ته و ویل:

دلته راشه!

الماء هغه ته نږدې شوه.

پلار یې هغه ښکل او بیا یې په غیږ کې، کېناوه.

وروسته یې د هغې نه پوښتنې وکړې.

څه دې نن یاد کړي دي؟

هغې ورته د خپل سبکونو لوستل، پیل کړل.

پلار یې و پوښتل:

نن دې کارتوني فلم ولید؟

هغې و ویل:

نن ما یوه بل فلم ولید.

د فلم نوم ترازن و.

هغه و ویل:

مطلب دې د ترازن څخه دی؟

هغې و ویل:

هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

هغه ډېر هوښیار او تکړه الک و.

زه غوړام پر خپل کوشني ورور نوم، ترازن (تارزن) کېږدم.

په دې وخت کې نیکه یې و ویل:

هغې له ما سره دا خبره ګډه (شریکه) کړې وه.

ما ورته و ویل:

دا خبره به ستا د پلار تر راتګ پورې پرېږدو.

دا دی، ته هم را ورسېدې.

په دې هکله، ستا نظر څه دی؟

هغه و ویل:

زه کومه ستونزه نه لرم.

د مور نظر به یې هم په دې هکله واخلو.

مور یې غږ کړ.

زه د الماء سره موافقه یم.

بیا د الماء نیکه لاسونه پورته کړل او دعایې وکړه.

بیا ټولو یوه بل ته د الک د نوم، مبارکې و ویله.

د هغې د کشر ورورنوم ترازن / تارزن (Tarzan) شو.

الماء ډیره خوشحاله شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

الماء په شپږ کلنۍ کې، نږدې ښوونځي ته، ورووپېژندل شوه.

دوې میاشتې وروسته، ښوونځی هم، پیل شو.

په لمړۍ ورځ کې، مور یې ور سره تر ښوونځي پورې، لاړه.

بیا به خپله ښوونځي ته، تله او راتله.

یوه خوررېنه یې، د هغوي ګاونډه وه.

هغوی دواړه به ښوونځي ته، تلې بیا  د رخصتۍ نه وروسته به، بېرته راتلې.

هغه په ښوونځي کې هم مخ ته وه او ښې شمېرې (نمرې) به یې وړې.

الته هم پر ټولو ګرانه وه.

د شپږم ټولګی نه اووم ته لاړه.

ټول خوشحاله او تر شین (زرغون) اسمان لاندې یې، ژونده کوه.

ټول خلک په خپلو دندو او کارونو بوخت وو.

سهار وختي په ۶ بجو، دېرشو دکیکېو او د اکتوبر میاشتې اوومه کال ۲۰۲۴ د اوړي  په ورځ، نابېره حماس ډلې په غزې کې د الاقصا طوفان په نامه عملیات د اسرایلو پرسویلي، خاورې پیل کړل.

د هغوی په وینا په شلو دکیکو(دقیقو) کې ۵۰۰۰ (زره) راکټونه یې د غزې له ټرانګي نه پر اسرایلو و ویشتل، مګر اسرایلو یوازې د ۳۰۰۰ راکټونو لګېدو، یخلی کړی و.

په دې ترخ کي ۵ کسانو ته، مرګ ژوبله، واوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

د حماس ډلې کسانو د اسرایلو خاورې ته د ننه، تر ۱۴۰۰ اسرایلان یې و وژل او تر ۲۵۰ کسانو نه ډیر، برمته (اسیر) او تړانګې ته یې د ننه کړل.

اسرایلي پوز(نظامیانو) هم پر بمباریو، پیل کړ.

لمړی یې خپله خاوره د حماس شتون نه پاکه او پر غزې تړانګې ګذارونه خورا ډیر کړل.

نه ښوونځی پرېښود، نه هم روغتون.

هرې خوا به یې لکه لیونی، حملې کوې.

د لنډې دمې، د امریکایی او نورو ناټو غړو لیدنې، کتنې اوډاد نه یې وروسته پر غزې تړانکې ځمکنی یرغل، پیل کړ.

د یوې خوا به یې خلکو ته ویل چې له شمالي سیمو و وځې، پر خلکو به رحم نه کاوه اوډلیزه وژنه یې پیل کړ.

چې تر ننه پورې څه باندې ۳۲۸۴۵ د غزې بې ګناه فلسطینیان یې و وژل.

چې په دغو کسانو کې یوازې ۶۰۰۰ یې، ماشومان ول.

همدا راز تر ۷۵۲۹۲ ډیر کسان، هم ټپیان کړل.

دا خونړۍ او نا برابره جګړه تر اوسه هم، روانه ده.

د الماء کورنۍ هم د اسرایلو د وتو(پرېښودو) اعلان نه وروسته د خپلو سیمو نه کډه شوو.

لمړی یې یوې سیمې ته پناه ویوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

اسرایلیانو پر ځمکني یرغل کې، پر مختګ وکړ.

بیا یې ټولو ته اعلان کړ چې، خپل ځایونه پرېږدی او د غزې سویلي سیمو ته، کډه وکړي.

هغوی هم کومه بله لار، نه درلوده او مجبوره شوو چې سیمه پرېږدي.

بیا د الماء خپلو، خپلوانو او ګاونډیانو چې شمېره یې تر ۴۰۰ کسانو نه، ډېره وه د غزې پر سویل لوري یې حرکت وکړ.

هغوی یواځې څه کالی او خوراکي توکي له ځانه سره درلودل.

هغوی د خپلو او خپلوانو په کورونو کې مېشت شوو.

دوې ورځې نه وې تېرې شوې چې اسرایلې پوځ پر ودانیو اوایي (هوایی) بریدونه، پیل کړل.

هر څه یې د خاورو سره، خاورې کړل.

په دې بمباریو کې تر ۱۴۰۰ کسانو، خپل ژوند د لاسه ورکړ چې د الماء کورنۍ هم په کې وه.

د خاورو او دوړو نه وروسته فلسطیني ځوانانو د هرې خواو نه مرستې ته، ودانګل تر څو ژوندي پاتې شوي کسان او ټپیان وژغوري.

د نړېدلو ودانیو شاوخوا ګرځېدل او چغې به یې وهلې:

څوک ژوندي دی؟

ودانۍ ټولې کانکرېټي وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

د ګاډرو او چتونو لرې کول بې له عصري تکنالوژۍ نه، اسانه کار نه وه.

د خلکو په لاسونو کې، لاسي څراغونه وو.

هغه به د نړېدلو ودانیو سوري، لټول او و یل:

څوک زما غږ اوري؟

په دې وخت کې له یوه سوري غږ راغی.

زه ژوندۍ یم.

زما کورني وږغورئ.

کس ترې پوښتنه وکړه:

ته څوک یې؟

هغې و ویل:

زه الماء یم.

زما کورنۍ تر نړېدلي ودانۍ لاندې ده.

زما پلار، مور، نیا، نیکه، ورور، خور او کوشنی ورور مې هم، دلته دی.

خلکو ډېر کوښښ وکړ چې د نړېدلې ودانۍ کانکرېټونه لرې کړي.

دا کار د هغوی له پاره ناشونی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

بيا بل کس چې غټ لاسي څراغ يې په لاس کې و، سوری ته نږدې شو او ويې ويل:

کوښښ وکړه د دې سوري نه راو وځې.

هغې و ويل:

تياره ده.

لاره نه وينم.

خپل څراغ يې روښانه او سوری ته يې رڼا واچوه.

بيا يې پر الماء غږ کړ.

الماء!

د څراغ روښنايي وينې ؟

هغې و ويل:

هو!

وينم.

خو!

لمړی زما کورنۍ وژغورئ.

کس و ويل:

سمه ده!

ته راو وځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ، ټول ژغورو.

بیا هغې و ویل:

زما ورو هم، زما سره و.

هغه نه ښکاري.

تیاره ده.

زه هغه هم له ځانه سره را باسم.

بیا کس و ویل:

د هغه نوم څه دی؟

هغې و ویل:

د هغه نوم ترازن (تارزن) دی.

بیا یې و پوښتل:

هغه څو کلن دی؟

الماء و ویل:

هغه یوه کلن دی.

کس و ویل سمه ده.

هغه دې په غېږ کې را واخله.

الماء و ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

تیاره ده.

هغه نه ښکاري.

بیا کس و ویل:

زه څراغ اچوم.

ته ماته و وایه!

کومې خوا د څراغ مخه واړوم؟

هغې و ویل:

سمه ده!

بیا کس څراغ، سوري ته، د ننه کړ.

هغې به د لاندې نه ویل:

ښی، لاس.

لږ نور هم.

بیا یې خپل ورور وموند.

کس ته یې غږ کړ.

ترازن (تارزن) مې وموند.

څراغ همدلته ونیسه.

کس و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

بیا هغې و ویل:

دلته لږ صبر وکړه.

هغه تر ډبرو لاندې، دی.

زه به ترې ډبرې، لرې کړم.

هغې څه خښتې اوډبرې لرې کړې.

بیا یې غږ کړ:

څراغ مړ نه کړې.

کس و ویل:

سمه ده!

ته سوچ مه کوه.

مونږ ډېر کسان دلته ستاسو د ژغورنې د پاره یوو.

څو دکیکې تېرې شوې.

هغې غږ کړ.

تارزن کلک، بیده دی.

هرڅه چې یې خوزوم، نه ویښېږي.

کس پوی شوچې هغه هم، شهید شوی دی.

الماء

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې الماء ته و ویل:

وګوره!

کوم ځای خو به یې وینې نه وي؟

هغې و ویل:

د څراغ رڼا لږ ښې خوا ته، کړه.

زه یې په ځیر سره، وګورم.

کس د څراغ رڼا ښې خوا ته، کړه.

الماء غږ کړ.

بس!

دلته رڼا، تینګه کړه.

کس و ویل:

سمه ده!

بیا الماء چیغه کړه او ویې ویل:

ای خدایه!

زما تارزن!

زما ورور!

کس غږ کړ او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

څه شوي؟

څه خبره ده؟

الماء و ويل:

د هغه سره پريې(پرېک) شوی دی.

د هغه بدن سوړ دی.

کس غږ کړ.

هغه پرېږده!

هغه شهيد شوی دی.

مونږ يې راباسو.

ته خپله راو وځه!

بيا هغې و ويل:

هيله کوم!

زما کورنی وژغورئ.

کس و ويل:

سمه ده!

مونږ لګيا يوو.

حتمي يې ژغورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته سوچ مه کوه.

زه یوازې دلته نه یم.

مونږ د سلو کسانو نه هم، ډېر یوو.

ټول کسان، بوخت دي.

د نړېدلو ودانیو ټوټې لرې کوي او خلک ژغوري.

الماء و ویل:

سمه ده!

بیا هغې ځان سوري ته، برابر کړ.

د څراغ د رڼا په مرسته، وتو ته، نږدې شوه.

بیا څه کسان نور هم، ورسېدل.

الماء  ښکاره، شوه.

هغه په خاورو، سپېره، مېره وه.

څو ځایونه یې هم شوکارې شوي وو.

کسانو خوشحالی وکړه.

د هغې مخ لکه د سپوږمي څوارلسمې را څرګند شو.

مخ یې هم سپېره وه.

د ویښتانو رنګ یې اوښتی او دوړو نه، ډک وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

بیا کس ورته لاس ورکړ.

هغه و توانیده راو وځي.

الماء ډېره وېرېدلې وه.

دنیا ورته بل رنګ، ښکارېده.

له خلکو یې و غوښتل چې:

زما کورنۍ هم، وژغورئ.

خلک، پر لاسي وسایلو، لګیا وو.

کومه ښه پایله یې، نه درلوده.

کسانو الماء د سیمې نه لرې کړه.

او خپلو هڅو ته یې، دوام ورکړ.

ټوله ورځ یې خوارۍ وکړې.

د هغوی لاسته راوړنه، یوازې الماء وه.

هغه ۱۴۰۰ شهیدان هم تر اوسه، د نړېدلو ودانیو لاندې دي.

الماء خپل ژوند له سره پیل کړ.

هغه ډېره خواشینې وه.

څه موده وروسته یې خپل ماما و موند.

هغه اوس د خپل ماما سره، ژوند کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

د ماما کور یې هم، خوندي نه دی.

البته هم کېدای شي اسرایلي پوځ ځمکني عملیات پیل کړي.

هیڅ څوک څه نه، وایي.

داسې ښکاري ټول خلک د فلسطینیانو په وژنې کې ګډ دي.

هرې خوا، چوپ او چوپتیا خپره ده.

د نړۍ اعراب او ټول مسلمانان په خوب بیده دي.

شپه ده.

ورځ تر بلې هم تیاره، کیږي.

د مسلمانانو تر منځ بې اتفاقي ورځ تر بلې مخ پر ډېرېدو ده.

الماء هم ډېره، بېرېږي.

ماما یې کوښښ کوي چې ټولې تېرې شوې حادثې د هغې له ذهنه و باسي.

مګر دا کار، د الماء او د هغې د ماما له پاره ستوزمن دی.

درنه جګړه روانه ده.

هرې خوا بمبارۍ، دي.

بېګناه خلک وژل کیږي.

ډېرى یې ښځې، سپین ږیرى او ماشومان دي.

هغوی، چېرې وتې هم نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

ټولې لارې بندې دي.

خواړه هم ورځ تر بلې لږېږي.

د نړیوالو مرستندیو ټولنو د پاره هم شرایط ورځ تر بلې سختیږي.

ځینې ټولنې له فضا نه، التـه خواړه اچوي.

بختورو ته خواړه په لاس ورځي او بد بخته خپل ځانونه د خوړو تر لاسه کولو په خاطر، د لاسه ورکوي.

ډېرې ماشومان د غزې د خوارځواکي سره مخامخ دي.

ځیني یې بیا خپل ژوند هم د لاسه ورکوي.

د ماشومانو د پاره شیدې هم نه شته.

درملنه، خورا ګرانه ده.

روغتونونه، تر بمبارۍ لاندې دي.

الماء د بمباریو د غږ ونو نه، ډېره ببرېږی.

هر کله د خپل ماما او د هغه د کورنۍ غړو نه پوښتنه کوي:

کله جګړه پای ته رسیږی؟

کله به وتوانیږی خپل کورنۍ غړو مړي و ویني او تر خاور لاندې یې کړي.

ماما یې ورته ډاد ورکوي چې، دا کارنونه به ډېر ژر تر سره شي.

جګړه به ودرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

لمر بیا تود شي.

آسمان به، بیا شین شي.

دوړې او خاورې به له فضا نه، لرې شي.

الماء ډېره هوښیاره ده.

هغه دا خبرې، نه منی.

هغه په رسنیو کې وایي:

زمونږ د هېواد جګړه اوږده ده.

زه ډېره ډاره شوې یم.

ما ته غزه د قبر په شان ده.

نه غواړم دلته، و وسېږم.

نه غواړم د ماشومانو د مرګ چیغې واورم.

غواړم د خپلو او خپلوانو کورونو ته، لاړه شم کوم چې په نورو هېوادونو کې، ژوند کوي.

ښه به وي چې الماء وژغورل شي.

که چېرې الماء التة پاتې شي، هغه به هم د نورو فلسطینیانو په څېر مړه او یا هم لیوني شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## د غزې تړانګې انځورونه د جګړې لیکې نه



د غزې تړانګې انځور د جګړې لیکې نه



د غزې تړانګې انځور د جګړې لیکې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....



د غزې ترانګې انځور د جګړې لیکې نه



د غزې ترانګې انځور د جګړې لیکې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....



د غزې ترانګې انځور د جګړې ليکې نه



د غزې ترانګې انځور د جګړې ليکې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....



د غزې ترانګې انځور د جګړې لیکې نه



د غزې ترانګې انځور د جګړې لیکې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....



د غزې تړانګې انځور د جګړې لیکې نه



د غزې تړانګې انځور د جګړې لیکې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## نَصْرٌ مِنَ اللَّهِ وَ فَتْحٌ قَرِيبٌ

د نصر من الله او فتح قرب آیت د سورة صف له مشهورو آیتونو څخه دی، چې ټولو مؤمنانو یا اصحابو ته د خدای د نصرت او پر دښمنانو د فتحې زیری ورکوي.

د مکارم شیرازي په وینا چې د معاصر مفسرینو څخه یو دی، د سورة صف یو مهم هدف د مومنانو ته د ایمان او د خدای په لاره کې جهاد ته بلنه ده  او دا آیت چې د پخوانیو آیتونو سره تړاو لري  په دې دنیا کې د ایمان او جهاد ثمراتو ته اشاره کوي او مؤمنان هڅوي چې د جهاد له لارې له دین سره مرسته وکړئ او د نړۍ له شرک او کفر سره مبارزه وکړئ.

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء
.....

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه / دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء
.....

۱۹. منار جام - الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چي قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچېن (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم
(جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٤. د اسلامي معمارۍ پیل
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مینه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د یوې ښونکې مینان په یوه تولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګرې ماما مینه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مینې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندی کړنلاره د معمارانو او اینجینیرانو(انجینرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سیدو او عیدو - د کوشنیوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د یوې میاشتې **ناوي** (پښتو ناول)
٦١. دخاځکو هار (د یوه سړی لنډې کیسې)

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....

٦٢. د کابل ښار اصلي معماري (مراد خانۍ)
٦٣. کوشنۍ سوداګره (پښتو ناول)
٦٤. د کابل ښار معماري - بي بي مهرو
٦٥. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
٦٦. ډارونکی سېلاب ( پښتو ناول)
٦٧. خواریکښ قاضي (پښتو ناول)
٦٨. د پخوانیو جوماتونو توپیر د نن سره
٦٩. د مور وژونکی (قاتل)، (پښتو ناول)
٧٠. د مور مېړه (پښتو ناول)
٧١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
٧٢. لېونی ملا (پښتو ناول)
٧٣. ځوان شهید (پښتو ناول)
٧٤. توده برستن (پښتو ناول)
٧٥. نورک اکا (پښتو ناول)
٧٦. غریبک (پښتو ناول)
٧٧. د ژوند خوږې او ترخې (پښتو ناول)
٧٨. الما (١٣ کلنه فلسطیني انجلۍ تر نړېدلې ودانۍ) پښتو ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## د کار لاندې کتابونو لېست

١. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد پنجم)
٢. لیونی لېوه
٣. د خاورو لاندې ښار
٤. سپین کارغه
٥. سور تنور
٦. خړه بیزو
٧. بندي مرغه
٨. بې وخته باران
٩. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

الماء

.....

## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Alma

A 13-year-old Palestinian girl under collapsed building

**Written by:** Architect PHD Hashmatullah Atmar

**Date:** November-December /2026

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**